AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de

افغان جرمن آنلاین
AGO

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ډاکټر لودویګ آدمک
ترجمه: رحمت آریا

۲۰۲۶/۰۵/۰۲

# د افغانستان بایوګرافیکي قاموس
## دوهم ټوک
### (یوڅلوېښتمه برخه)

## حمیرا

د پخواني پادشاه محمد ظاهر مېرمن، د احمد شاه او د زریني لور. اوس په ایټالیا کې له خپل خاوند سره ژوند کوي.

## محمد سرور همایون

کابلی دئ. د کابل په پوهنتون کې د دري ژبې پوهاند. د یو شمېر کتابونو مؤلف.

## ولید حقوقي

د محمد ابراهیم زوی په ۱۹۳۲ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. پلار ئې محمدزی او مور ئې بارکزي، سکندر. په ۱۹۵۰ز کال کې د استقلال له لیسې او په ۱۹۵۴ز کال کې د کابل پوهنتون د حقوقو او سیاسي علومو له پوهنځي څخه فارغ سوی دئ. د سویتزرلند په ژنوا کې ئې حقوق ولوستل او په ۱۹۶۵ز کال کې ئې خپله دکتورا ترلاسه کړه. په ۱۹۵۴ز کال کې د کابل پوهنتون د حقوقو د پوهنځي مدرس یا اسیستانت لکچرر. په ۱۹۵۷ز کال کې د کابل پوهنتون د ښوونې او روزنې مدیر. په ۱۹۶۵ز کال کې د حقوقو پوهاند. په ۱۹۶۶ز کال کې د صدارت عظمی د سکرتریت غړی او د لوی څارنوال مرستیال. په ۱۹۶۶ز کال کې د عدلیې د وزارت مرستیال وزیر. په ۱۹۷۰ز کال کې د سترې محکمې قاضي او د سترې محکمې د قضاتو د محکمې رئیس. په ۱۹۷۱ز کال کې قاضي او د افغان سترې محکمې اسیستانت. په ۱۹۷۳ز کال کې د داؤود له پلوه معزول سو. له ۱۹۷۸ تر ۱۹۸۰ز کال پورې سیاسي زنداني. د ۱۹۸۰ز کال د فبرورۍ په میاشت کې د عدلیې د وزارت سلاکار. هند ته وتښتېد او په ۱۹۸۰ز کال کې جرمني ته ورسېد. د OSULA د شورى غړی. د ۱۹۸۳ز کال د دسمبر په میاشت کې په بُن کې وفات سو.

## مولوي حسین

په کونړ کې د مجاهدینو بولندوی. د حزبِ اسلامي غړی. له ۱۹۷۶ تر ۱۹۷۷ز کال پورې ئې د داؤود د حکومت پر ضد په کونړ کې د مقاومت د تنظیمولو مشري کوله. د ۱۹۷۸ز کال د جولای په میاشت کې ئې د خلقي رژیم پر وړاندې مقاومت پیل کړ.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

## میر عطاء محمد حسیني

د میر محمد حسین حسیني زوی په ۱۸۸۱ز کا ل کي په هرات کي زېږېدلی دئ. دودیزي زده کړي ئـي په هرات کي تر لاسه کړي دي. په هرات کي قاضي وو. د نادرشاه پرمهال د کورنیو چارو مرستیال وزیر وو. د هاشم خان پرمهال د مشرانو جرگې/ سنا رئیس وو. له ۱۹۴۶ تر ۱۹۵۰ز کال پورې د عدلیې وزیر. د ۱۹۵۰ز لسیزي په اوږدو کي مقاعد او وفات سو.

## میر محمد حیدر حسیني

له ۱۹۴۶ تر ۱۹۵۰ز کال پورې د مالیې وزیر

## ډاکټر سید محمد حسیني

د میر محمد هاشم حسیني زوی په ۱۹۲۹ز کا ل کي په کابل کي زېږېدلی دئ. په ۱۹۴۹ز کال کي د اماني له لیسي فارغ او په ۱۹۵۴ز کال کي د کابل پوهنتون د حقوقو او سیاسي علومو له پوهنځي څخه فارغ سوی دئ. په ۱۹۵۴ز کال کي د حبیبیې او د نجات د ښوونځیو ښوونکی. خپله دکتورا ئـي په ۱۹۶۰ز کال کي د ګوتنګ تن د جورج اوګوست[1] له پوهنتون څخه تر لاسه کړې ده. په ۱۹۶۰ز کال کي د کابل پوهنتون د ساینس د پوهنځي اسیستانت. په ۱۹۶۲ز کال کي د فزیک د دیپارتمنت مشر. په ۱۹۶۴ز کال کي د ساینس د پوهنځي مرستیال رئیس. په ۱۹۶۵ز کال کي د بُن په پوهنتون کي ریسرچ فیلو[2]. په ۱۹۶۸ز کال کي د کابل پوهنتون پوهندوی. په ۱۹۶۸ز کال کي د ساینس د پوهنځي رئیس. په ۱۹۷۱ز کال کي په بن کي ریسرچ. په ۱۹۷۳ز کال کي ئـي د پوهاند رتبې ته ترفیع وکړه. د فزیک د دیپارتمنت مشر. په نړی والو سمینارونو کي ئـي ګډون کړی دئ. د علمي کتابونو لیکوال. (خپل نوم د سید م. حسیني په ډول لیکي)

## سید محمد داؤود حسیني

د سید اسمعیل زوی په ۱۹۰۰ز کال کي د کابل په دارالامان کي زېږېدلی دئ. د حبیبیې په لیسي او دارالمعلمینو کي ئـي زده کړي کړي دي. د معارف د وزارت او د اطلاعاتو او کلتور د وزارت کارکوونکی. دی هماغه مشهور خطاط دئ چي آثار ئـي لومړی په سراج الاخبار کي چاپ سول. له ۱۹۶۴ تر ۱۹۶۸ز کال پورې سناتور. په ۱۹۷۹ز کال کي وفات سو.

## ډاکټر غلام رضاء هوشمند

د علي حیدر زوی، په ۱۹۲۳ز کال کي په هرات کي زېږېدلی دئ. په ۱۹۳۰ز کال کي کابل ته راغی او د غازي په لیسي کي ئـي زده کړي وکړي. په ۱۹۵۰ز کال کي ئـي خپل د طب د ډاکټرۍ سند تر لاسه کړ. یو مشهور شاعر سو.

---

[1] -Georg August University of Goettingten
[2] -Research Fellow Bunn University


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولـئ

## ابراهیم بیگ

«لاقي» [3]. یو «بسمه وو چي» [4] مشر چي په افغان او شوروي خاورو کي ئـي د خپلو بې باکو تاړاکونو په پار شهرت درلود. د ۱۹۲۶ز کال د جولای په میاشتي کي له فرغاني څخه افغان تورکستان ته راوتښتـېد او کابل ته راغی. په کابل کي د درې ورځو لپاره د افغان دولت مـېلمه وو، له هغـهٔ وروسته د بخارا له پخواني کېوال امیر سره استوګن سو. د ۱۹۲۹ز کال په لومړیو کي ئـي په مزار شریف کي د عملیاتو لپاره د «بسمه چي» ډلو د سمبالولو له لارې د حبیب الله کلکاني مرسته وکړه. د ۱۹۲۹ز کال د مي د میاشتي په اوړدو کي ئـي په مزارشریف کي د غلام نبي خان چرخي پر ضد بریدونو کي برالا او رغنده ونډه واخیسته. په ۱۹۳۰ز کال کي د شوروي اتحاد پرله پسي پلاویو او استازیو له مکرور تګ راتګونو وروسته افغان حکومت ګام اوچت کړ او ابراهیم بیګ ئـي د سرحد په اوږدو کي له تاړاکونو او بریدونو څخه منع کړ خو پایله ئـي په دې واوښته چي دننه په افغانستان کي ئـي بریدونه پیل کړل. د آګست په میاشت کي راپور ورکړل سو چي نوموړی د تسلیمي حد ته نـېږدې سوی دئ خو له دې ئـي وېره درلوده چي ګنې د کلکاني حبیب الله په برخلیک به واوړي نو ځکه ئـي له راتګ څخه غاړه وغړوله او خپل فعالیتونه ئـي له سره پیل کړل. نوموړي د اکتوبر په میاشت کي خان آباد محاصره کړ خو په پای کي په شا وتمبول سو. د نوامبر په میاشت کي راپور ورکړل سو چي نوموړي ته ماته ورکړل سوی او ړ سوی چي «ارتا تګای» [5] ته په شا سي. خو د ډسمبر په میاشت کي راپور ورکړل سو چي بیا راغلی دئ. په پای کي د شوروي – افغان د ګډو عملیاتو په ترڅ کي ئـي ماته وخوړله.

## محمد کبیر ابراهیم

د محمد ابراهیم زوی او د ولید حقوقي ورور په ۱۹۳۰ز کال کي په کابل کي زېږېدلی دئ. په ۱۹۴۸ز کال کي د استقلال له لیسې څخه فارغ او په ۱۹۵۳ز کال کي د کابل پوهنتون د حقوقو او سیاسي علومو له پوهنځي څخه فارغ سوی دئ. په ۱۹۵۴ز کال کي د مالیې په وزارت کي ملکي مأمور. له ۱۹۵۴ تر ۱۹۵۶ز کال پورې د مکلفیت دوره. په ۱۹۵۶ز کال کي د سپین زر شرکت غړی. په ۱۹۶۸ز کال کي د فواید عامي په وزارت کي د ښارجوړوني په ریاست کي د تفتیش او د رابط د څانګي مسؤول. له ۱۹۶۸ تر ۱۹۷۳ز کال پورې د «بنائـي تعمیراتي شرکت» رئـیس. په ۱۹۸۰ز کال کي پاکستان ته وتښتـېد او په ۱۹۸۲ز کال کي د امریکا متحده ایالاتو ته لاړ.

**عبرت** : وګورئ : عبرت

## عبدالخالق اخلاص

د آخوندزاده ملاجان زوی په ۱۹۰۱ز کال کي په کونړ کي زېږېدلی دئ. خصوصـي زده کړې ئـي په پاړسي او عربي کي وکړې. په ۱۹۲۴ز کال کي ئـي عسکري وکړه. په ۱۹۳۱ز کال کي د ولسي جرګي غړی. د پښتو اکاډیمۍ غړی او د اتحاد مشرقي د خپروني مرستیال محرر. د پښتو اکاډیمۍ د قاموس د څانګي مدیر.

---

[3] - Laqi

[4] -Basmachi

[5] -Urta Tagai


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ

**نور بیا**

## مـحـمد آصف اکرام

د مـحـمد حسین زوی په ۱۹۵۱ز کال کې د ننګرهار په غزګۍ کې زېږېدلی دئ. په...

قدرمنو لوستونکو! د ښاغلي رحمت آریا د آرشیف: لینک


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ